بسم الله الرحمن الرحیم

# پر پښتو شعر
# د جنگ اغېزې

عزت الله شمسزي

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
دافغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون


**کتاب پیژندنه**

---

**دکتاب نوم:** پر پښتو شعر د جنګ اغېزې

**لیکوال:** عزت الله شمسزی

**خپرندوي:** د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون

**ایډیټر:** خوشال خلیل

**دپښتۍ طرحه:** محمد مظفري

**ډیزاین:** محمدتقي حسن‌زاده

**چاپشمېر:** لومړی وار ۵۰۰ ټوکه

**چاپځای:** د کمیسیون چاپ خونه

**نیټه:** ۱۳۹۱/ مرغومی



**پته:** ۶ مه ناحیه، پل سرخ، کارته سه، کابل، افغانستان.

**ټیلفون:** ۰۰۹۳(۰۲۰)۲۵۰۰۶۷۶-۲۵۰۰۶۷۷

**بریښنالیک:** aihrc@aihrc.org.af

**ویبپاڼه:** www.aihrc.org.af

## لړلیک:


| | |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| جنګ او شعر | ۸ |
| د جنګ د شعر موضوعات او مضامین | ۱۶ |
| تحمیلي جنګ او افغانان | ۱۹ |
| په شعر کې د انساني تلفاتو انځورونه | ٤۲ |
| ملي شتمنیو او چاپېریال ته اوښتي زیانونه | ۷۳ |
| دماشومانو متاثره کېدل او د ښوونځیو سوځېدل | ۷۹ |
| په شعر کې د ورځنیو پېښو انځورونه | ۸۵ |
| په شعر کې د جنګ اصطلاحات | ۱۰۵ |
| سوله په شعر کې | ۱۱۲ |
| پایله | ۱۲۱ |
| اخځونه | ۱۲۳ |

## د دې کتاب په اړه

ادبیـات او هــنر له بشري حقونو سره ژوره اړیکه لري، پــه اروپا کې له منځنیوپېړیو را وروســته د ویښتیا او روښانتیا په دوران کې همدغه ادیبان او هنرمندان و، چې په خپلو هنري شاهکارونو کې یې د انسان کرامت او مقام ته د درناوي ذهنیت جوړ او په فکري لحاظ یې ټولنه دې ته چمتو کړه چې انسان ته دې د هغه د انسانیت په خاطر درناوی وشي. لــه هغې پســې د دوو نړیوالو جګړو پــر مهال چې بشري ټولنې تــه کوم زیانونه واوښتل، همدغو ناخوالو ته په کتو، لویدیز کې د جنګ ضد شاعرۍ مفهوم رامنځته شو او د جګړو او بربادیو په ضد د شعر لیکنې لړۍ پیل شوه، چې د جګړو د دوران ویجاړۍ او وژنې په کې په ښکلې هنري بڼه انځور او غندل شوې وې. له جنګ جګړو او وحشت نه ســتړې شوې د هغه مهال نړیوال ســیاسي، ټولنیز او فکري حالت ددې زمینه برابره کړه چې د ملګرو ملتونو د ســازمان له جوړیدو لږ وروســته پــه ۱۹۴۸ کال کې د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه تصویب کړي، چې په هغه کې د ټولو انســانانو پر طبیعي حقونو په ځانګړي توګه د ژوند او انســاني کرامت ته د درناوي حق پر خوندیتوب ټینګار شوی دی.

د جنګ ضد شــاعري کوم داســې مفهوم نه دی چې په هغه کې دې د مشروع دفاع حــق او د هیوادنیــو ملي جګړو مفاهیم تر پوښــتنې لاندې راشي، او یــا خدای مه کړه هغه تاریخي حماســې دې وننګول شي چې د اســتبداد، ظلم او بې عدالتیو پر وړاندې د مقاومــت پــه ترڅ کې پنځول شــوي دي. بلکــې د جنګ ضد شــاعرۍ کې د جنګ او تاوتریخــوالي نــه کرکه او بیزاري انځور شــوې ده، د جنګ ضد شــعرونو کې د جګړو هغه کرغیړنې شــیبې او پیښــې ثبت شــوي دي چې زموږ ټولنه یې منفي پایلې لا هم احساســوي. د جنګ ضد شــاعر معمولا په دې هڅه کې وي چې په مســتقیم ډول له جنــګ او تاوتریخــوالي نه خلک را وګرځوي، څو په ټولنه کــې بشري کرامت ته درناوی تعمیم او معنا پیدا کړي. دلته د شاعر له انده جنګ هدف او وسیله نه ده، بلکې جنګ هغه ویجاړونکې پدیده ده چې نه یوازې کورونه، ښارونه او باغونه ورانوي بلکې د افغانانو نفس او انسانیت ته هم زیان اړوي.

سیاســتوال سوله د مذاکرې، پخلاینې او اوربند په څیر مفاهیمو کې لټوي، خو سوله